خوشحال آصفي ۲۰۱۶/۱۰/۲۲

د سولې نوې کړکۍ؛

طالبانو ته د طیب آغا پر ځای مشوره

په داسې حال کې ویل کیږي له اسلامي حزب سره د افغان حکومت د سولې ټرون له لاسلیک وروسته وسله والو طالبانو هم له افغان حکومت سره پټې خبرې پیل کړې دي؛ اوس په تازه کې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني مشر طیب آغا وسله والو طالبان وته د سولې نوې نسخه وړاندې کړې ده. سید طیب اغا په یوه لیک کې ویلي چې طالبان مشران دې له پاکستانه ووځي، بهرني جنګیالي دې له خپلو لیکو وشړي، د امیرالمومنین او امارت نومونه دې لغوه شي، په مسجدونو کې دې چاودنې بندې او د قطر دفتر ته دې واک ورکړل شي چې جامع تګلاره جوړه کړي. نوموړي له ملا هبت غوښتې هغه کسان له خپلو لیکو وباسي چې د پاکستان، ایران او نورو هیوادونو له استخباراتو سره مستقیم یا غیرمستقیم اړیکې لري.
طیب اغا همداراز وړاندیز کوي« د سیاسي او خارجي امورو لپاره دې یوازې سیاسي دفتر وي. هغه نظامي او غیرنظامي مسوولین یا افراد چې د پاکستاني، ایراني او نورو خارجي استخباراتو سره مستقیم یا غیر مستقیم اړیکې ساتي د یو یا دوه خبردارېو څخه وروسته د یو څه وخت لپاره او یا د نه اصلاح په صورت کې د ټول وخت لپاره د کاره ګوښه کړل سي.» ویل کیږي چې طیب اغا د پاکستان د فشار له کبله د ملا اختر محمد منصور له لورې د قطر د دفتر له مشرۍ لېرې شوی و.
له دې سره هم مهاله پاکستان هم د افغان سولې ډول ته ډنګ ورکړی دی. پاکستان چې ولیدل چې افغان حکومت وسله والو طالبانو سره له پاکستاني چینل پرته د سولې خبرې شروع کړې دي نو د دې لپاره چې نړۍ ته وښایي په دغه پروسه کې پاکستان هم مرسته کوي یا د پاکستان مداخله هم په کې شتون لري نو په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف سلاکار سرتاج عزیز هم د افغان سولې اړند نوې څرګندوني کړې دي. نوموړي په افغان جګړه کې له ښکېلو خواوو د سولې د خبرو اترو غوښتنه کړې او په ډاګه کړې یې ده، چې افغان طالبان د سولې خبرو اترو ته لیواله دي. د هغه په وینا، د سولې خبرو لپاره د طالبانو دراضي کولو په موخه پاکستان چې څه کولی شول، هغه یې کړي او داسې اشاري شته، چې طالبان هم د سولې خبرو اترو سره لیوالتیا لري. سرتاج عزیز دا څرګندوني په اسلام اباد کې په هغه غونډه کې کړي چې د افغانستان او پاکستان وکیلانو، پخوانیو دولتي چارواکو، د سولې استازو او د مدني ټولنې غړو برخه اخیسته وه.

پر طالبانو د طیب آغا د څرګندونو اغیز:

طیب آغا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخوانی مشر او په دغه ډله پراخ نفوذ لرونکی دی. د نوموړي وروستۍ څرګندونې طالبان ته د هغه ذهنیت په ورکولو کې مهم واقع کیدای شي چې افغان حکومت او ولس یې په بار بار تکراروي. د طیب آغا له لورې د طالبانو مشر ته په لیک کې وړاندیز کول چې له خپلو لیکو دې بهرني جنګیالي وباسي؛ دا به هغه طالبان چې د خپلو مشرانو په اصلیت نه و خبر؛ دا روحیه او باور ورکړي چې د دوی مشران د پاکستان، ایران، روسیې او نورو هیوادونو تر اغیز لاندې دي او د هغوی په امر جنګیږي. هغه طالبان چې د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې جنګیږي؛ پوه به شي چې جنګ یې یوازې د پردیو د ګټو لپاره دی او قرباني یې دوی ورکوي. دوی به د خپلو مشرانو په اصلیت پوه شي چې آی ایس آی، سپاه پاسداران او د کی جي بي په اشاره د هغوی لپاره جنګیږي او د جهاد په نوم افغان وژنه ترسره کوي. فلهذا یا به افغان حکومت سره یو ځای شي او یا به کم تر کمه د وسله والو له لیکو جدا شي.

پر افغان سوله د طیب آغا د څرګندونو اغیز:

لکه څرنګه چې طیب آغا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخوانی مشر دی نو په وسله والو طالبانو د پراخ نفوذ درلودو تر څنګ د طالبانو د لیکو او تشکیلاتو څخه هم خبردار دی. دی په طالبانو کې د سولې غوښتونکي او د جنګ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غوښتونکي طالبان هم پيژني، همداراز د طالبانو په دله کي هغه مشران هم پيژني چې د پاکستان، ايران او روسيې تر اغيز لاندې دي او د هغوی په اشاره جنګيږي. نو دا افغان حکومت او د سولې عالي شورا لپاره ښه ادرس دی چې له طيب آغا او د دی له معلوماتو څخه په استفادې له وسله والو طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو ادرس پيدا او د بشپړ بين افغاني پروسې له مخې د سولې پروسه مخته يوسي. افغان حکومت ته په کار ده چې د طيب آغا په نسخې غور وکړي او د سولې په پروسه کې ترې ګټه واخلي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ